مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۲/۰۷/۱۳

# د «هب» تیلیسکوب

# او

# د نجونو زدکړه

پر ساینس و فیزیک ولاړي نړۍ تشیال ته (هب) نومی تیلیسکوب استولی، چي دا دی د کائناتو په زړه پوري عکسونه رالیږي او خلک ورته حیران دي...

ګڼ کسان لګیا دي، ساینسپاله نړۍ زموږ له شاتګپالو باورونه سره پرتله کوي او د افسوس لاسونه سره موښي. ستونزه د ایډیولوژیک تحجر ده. موږ ته دا باور راکړل شوی دی، چي هرڅه باید هماغسي وي لکه زموږ د نیکونو د نیکونو د نیکونو په زمانه کي چي وو. که یوه خبره نوې شوه، نو بدعت دی، کفر دی.

له مسواکه غرض د غاښونو پاکي نه، بلکي پخپله مسواک دی، ځکه خو برس او د غاښو کریم، چي غاښونه لا ښه پاکوي بدعت او کفر ګڼل کیږي.

هغوی، چي وايي اسلامي نړۍ پخوا لوی لوی عالمان پاللي، رېښتیا نه وايي، ځکه هغه لوی لوی پوهان چي د تصادف له مخي په اسلامي نړۍ کي زیږېدلي و، هم د متحجرو او شاتګپالو زهادو له لاسه تباه او برباد شوي دي، تقریباً داسي لوی دانشمند نه شته، چي تکفیر شوی دي نه وي.

څو بېلګي یې وګورئ:

د بلخ نابغه ابن سینا ټول عمر د وچو متعصبو زاهدانو د تکفیر له لاسه په تېښته و او په همدې تېښته کي ومړ، شیخ الرئیس ته منسوبه دغه رباعي ښه په غور ولولئ:

**کفر چو منی گزاف و آسان نبود**
**محکمتر از ایمان من ایمان نبود**

**در دهر چو من یکی و آن هم کافر**
**پس در همه دهر یک مسلمان نبود**

د اشراقي فیلوسوفي لوی او پیاوړی فیلوسوف شیخ شهاب الدین سهروردی یې تکفیر او بیا یې د خپل کلک ملګري ملک طاهر (د صلاح الدین ایوبي زوی) زړه ورڅخه تور کړ، طاهر له مجبوریته شیخ اول زنداني او بیا وواژه (۵۸۷هجري) .شیخ د شهادت پرمهال ۳۸ کلن و او تر همدې عمره یې هم پنځوس کتابونه کښلي و، چي د اشراق فیلوسوفي، عرفان و ان اروپوهنې په برخه کي کم سیاله آثار دي.

دویم ښوونکی او د ارستو د مابعد الطبیعه نړیوال مفسر ابونصر فارابی یې تکفیر کړ او د هغه د الحاد د ثابتولو لپاره تهافت الفلاسفه ولیکل شو...



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

د نور د فیزیک، ریاضي، موسیقي او منطق لوی عالم ابویوسف یعقوب بن اسحاق الکندی ( ابوالحکما) یې وګواښه او د خپلو شاګردانو په لاس یې پرلپسې وویراوه، دومره چې خپلې لیکلې څو علمي رسالې یې په اور کې وسیزلې ... لوی فیلوسوف، طبیب، کیمیا پوه ابوبکر محمد بن زکریای رازی د ګوګړو(سولفوریک اسید)، الکولو او سپینو تیلو کاشف یې، چې نظریات یې په کیهان پېژندنه کې هم معتبر ول، ملحد او له نبوت څخه منکر وګاڼه د هغه د الحاد د تثبیت لپاره (اعلام النبوة) وکښل شو، ابن قیم الجوزیه د رازي د نظریاتو د ابطال لپاره دی په چټیاتو سر د هوا و هوس غلام وګاڼه، تر دې بریده چې رازی مجبور شو د خپلې مسلمانۍ د اثبات لپاره په خپل مهم کتاب (الحاوي) کې ګڼ ځله ټینګار وکړ، چې کلک مسلمان دی. د رازي آثار پېړۍ پېړۍ سانسورېدل او ښايي لویه برخه یې د همدې سانسو له امله د تل لپاره ورک شول.

عین القضات همدانی یې په ۳۳ کلنۍ کې تکفیر او په دار رازوړند کړ(۵۲۵ قمری).

ان د ابن عربی ( ابوعبدالله محمد بن علی الاندلسی المرسی الدماشقی محیی الدین) په شان وحدت الوجودی عارف او فیلوسوف یې هم تکفیر کړ او که د فخر رازی او حموی په شان روښانه دیني علماو ملاتړ نه وای، حکم کېده، چې د ابن عربي ټول آثار هرځای چې موندل شي، باید وسیزل شي.

دا کیسه همداسې راروانه ده او تر نن پورې را اوږدېږي.

فیزیک، ریاضیات، کیمیا او نور طبیعي علوم سخت دي، هغوی یې چې زده کولای نه شي کرکه ترې کوي. په تاریخ کې ډېر ځله همدغه کرکه د تکفیر په بڼه راخوټېدلې ده او وګړي څه، چې ټولنې و ملتونه یې له پرمختګ و انساني ژونده بې برخې کړي دي.

هغه ولسونه، چې د «هب» تیلیسکوب په زمانه کې دا شاربي، چې د نجونو زدکړه کفر ده که نه؟ خامخا هر هغه څوک، چې دوی غوندې فکر نه کوي، کافر ګڼي.





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ